# مجسمه

لیکوال : ارش ننګیال

www.samsoor.com
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ!

.زما غمځپلو او دردېدلو خوېندو ، ورونو ته چې په تاند ماشومتوب کې يې د پلارجان او مورنې د جنازې بازو ته راسره اوږه ورکړه او د غه له تحمله وتي غمونه يې راسره ووېشل ! !

د آرش عمر ستاسو ! ! !

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند کیسه ده

ژوند کیسه ده، ژوند په زړه پورې ناول دی، ښکلی رومان دی او ژوند داستان دی، پیل لري، پای لري، کرکټرونه، تصویرونه، تراژدي، مینه، تلوسه، ټکرونه فقد په معیار برابر ژانر دی، خو چې څوک پیدا شي ویې لیکې او ویې لیکې. ایا همداسې نه ده؟

ډېر ځله کیسه د ژوند تخلیق وي، یا هم په بله مانا چې ځینې حادثې د طبعت تخلیق وي، چې هنرمند یې یوازې د تورو ځبلوونکی وی.

نو زه هم دا ځل د تخیل په لوړه څوکه ناست یم او د ژوند ننداره کوم، که د ژوند له دروند پېټي مې لږه دمه کړې، نو په بیړه مې لیکلې اوخوندي کړې ده !

ځینې خاطرې بوله اوځینې د سترګولیدلی حال، چې هرڅه دي ما د ګوښه منلې اوژوند ته مې له هر خوا کتلي.

هسې خو تاسوته مالومه ده چې موږ د جنګ په ډګر کې رالوي شوي یو او د جنګ په ډګر کې مو جونګړي دي، دلته ویرونه دي، دلته اوښکې دي، موږ لا د خالق په قدرت جوړه ښکلې ارته نړۍ کې هیڅ هم نه دي لیدلي او هیڅ مو نه دي څکلي، زموږ خو یو لاس کې توره او بل لاس کې ډوډۍ ده، د قلم په چلولو سم نه یو بلد.

خیر ! هرڅه چې دي خو ما کوښښ کړی چې د کیسې بڼه ورکړم.

د ډالر کیسې د لیکلو پر مهال مې ګوتې رپېدې، چنده هم زما د کلي کور کیسه ده، (چې د دواړو جنازوکې مې برخه اخیستې ده )

مجسی پورې خو ان زموږ ژوند تړلی و ، مبایل دمینې راډیو د یوې اوربېدونکې د ژوند کیسه ده، د۱۰۰ عاجل نمبر کیسې سوژه هم رښتیني ده. دوه درې کیسې پکې فولکوریکې هم شته.

ما دغه هڅه کړې، دا چې لوستونکي او مینوال یې څنګه ارزوي ددوی خوښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پای کې .................. ټولنې نه نړۍ مننه چې زما خورې ورې لیکنې یې د چاپ په ګاڼه سمبال کړې او تر تاسو درنو یې در ورسولې !

له تاسو درنو لوستونکو نه هم نړۍ مننه کوم چې زما د هرکتاب هرکلی مو کړی او خپل قیمتي وخت مو پرې ضایع کړی.

تاسو یاست چې مونږ یو که تاسو نه یاست مونږ هم نه یو !

ستاسو ورور آرش ننګیال، ننګرهار ، مینه راډیو

2012/ 07/ 20

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مجسمه

بې هنره خلک د بې میوو ونو په شان دي

همدا چې مجاهیدنو د ډاکتر نجیب الله واکمنۍ رنګه کړه، بارو بېسترې مو وتړلې او کلي ته روان شولو.

کلیوالو به د ښار خلکو ته کومونستان ویلو او ښاریانو به کلیوالو ته اشرار، بس د هر چا لاس کې ټاپه وه ! چې په چا یې خوښه وه لګوله یې.

له وېرې سره، سره د کلي لار مو لنډوله !

د کډې (لارۍ) مو د کلي مخ ته په خوړ کې ودرېده او په بیړه، بیړه مو توکې کته کول، چې نا څاپه د یو بهرني شعار د نیمې تنې مجسمه چې پلار ته مې له هېواده بهر په یوې لوې غونډې کې له نغدي جایزې سره ورکړل شوې وه، راولېده.

په وارخطايۍ مې په یو څادر کې راتاوه کړه او په منډه کور ته روان شوم.

کله مې چې مشر ورور زما تخرګ کې مجسمه ولیده سخت په قهر شو، نژدې یې وهلی وم، چې ولې مو له کابل نه دا لعنتي مجسمه له ځانه سره راوړې ده، خلک به وایي چې دا هم د (لیلن) مجسمه ده؟ له واره یې امر وکه چې همدا شېبه یې د کلي په لوې ویالې کې واچوم، همداسې مې وکړل، ما او د تره ځومی مې په منډه ویالې ته لاړو، مجسمه مو په ویالې کې واچوله او کورته راغلو.

شاوخوا یو، یونیم کال وروروسته، یوه ورځ په کلي کې اوازه خپره شوه چې ګل محمد چې د کلي ډېرغریب سړی و، یو ډېر قیمتي د سرو زرو (بت) پیدا کړی دی.

له دې خبر سره، هر سهار به د ګل محمد د کور تر مخ ډله، ډله خلک ولاړ وو، نادیده پرې بولې لګېده، چا به پینځه لکه نادیه اخیسته او چا به لس او دولس لکه روپۍ خو، ګل محمد په میلیون هم نه ورکوله، هغه ویل چې (شی) سوچه سره زر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله خو به له سره منکر شو ، چې هیڅ یې هم نه دي پیدا کړي، خو خلکو چېرته پرېښوده ، له بلې خوا د ښځو لپاره هم ښه میله او اند ېښنه پیدا شوې وه ، ډلې ، ډلې ښځې به یې کور ته ورتلې، په ظاهره به یې شکرونه کول چې د ټول عمر غریبي یې ختمه شوه او زامن یې خدای پاک ورسول، خو په زړونو کې به یې خدای خبر څه، څه ویل؟

کرا ، کرا خبره لوېده ان پاکستاني سوداګر هم خبر شول، مخکې تر دې د ګل محمد دوی په دېره کې هیڅ کله کوم میلمه نه و لیدلی شوی، خو اوس یې بانډار ښه ګرم و ، شاوخوا نوی کټونه ایښي وو او د ممپلیو او ګوړې چایونه را روان و.

زه او زما ملګري به ځانونو ته په قهر وو ، چې دې ویالې کې خو موږ هم هره ورځ لامبل، نو ولې موږ دا خزانه پیدا نه کړه؟

د کلي په ویاله کې سم غوبل شروع شوی و ، غټ او وړو کي ورته کمیسونه ویستل، خو یوه ورځ د بت یا مجسې اوازه بل ډول شوه ، په منډه د ګل محمد دوی کور ته ورغلو ، ګورو چې یوه ډله خلک د کور مخ ته په چوتره کې ناست دي او خندا ګاندې دي، همدا چې ورسېدو ګورو چې مجسمه، د تجار په لاس کې ده او زر کلداري یې ورته نیولي دي، خو ګل محمد لکه ټپي مار په ځان کې تاوېده ، همدا چې مجسمې ته زیر شوم په بیړه مې د تره ځوی ته وکتل دواړه په سترګو کې مسک شو ، ځکه دا هغه د میسو مجسمه وه چې موږ په ویاله کې اچولې وه.

آرش ننګیال-مینه ارډیو

2010/ 12/ 16

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه يې پېژنم ! ! !

په ۱۳۵۲\۱۱\۱۱ کال د لغمان ولایت د بسرام په کلي کې، د نوښتګر شاعراو لیکوال اروا ښاد محمد اسحاق ننګیال په بڼ کې یو ګل وغوړېد ، چې نوم یې پرې آرش کېښود.

ننګیال صیب خپل نازولی ګل ډېر ښه وروزه او د زده کړې لپاره یې د کابل ښار د شاشهید په ښوونځي کې شامل کړ، لومړنۍ زده کړې یې په یاد ښوونځي کې تر سره کړې.

په ۱۳۷۱ کال کې کله چې کابل لوټ او تالا شو نو مشر ننګیال صیب لکه نور کابل میشتي کډې کولو ته اړشو او بېرته لغمان ته ولاړل.

آرش هلته د شهید مولوي حبیب الرحمن په لیسه کې شامل شو ، په ۱۳۷۵ کال له نوموړې لیسې نه فارغ شو ، په همدغو کلونو کې د دغه ګل ملیار (اروا ښاد محمد اسحاق ننګیال) له دې فاني او نیمګړې نړۍ ځخه سترګې پټې کړې او خپل نازولی ګل یې یوائې پرېښود ، د بڼ د نوروګلانو روزل هم ارش ننګیال ته ور په غاړه شول، نوموړی د دغه بڼ وړوکی ملیار شو.

دده ملیاربدو ته ډېر وخت پاتې و ، خو د خزان راتګ دې ته مجبور کړ چې د منۍ له توندو سیلیو نه نورګلان وژغوري، له همدې امله ورنه لوړې زدکړې نیمګړې پاتې شوې، د مجبورۍ او بېوسۍ تندو څپو دې ته اړ کړ چې ایران او پاکستان ته مسافر شي، د مسافرۍ په دیار کې تر څو کلونو تیرولو وروسته نوموړی بېرته خپل هېواد ته راستون شو.

په۱۳۸۱ کال کې په ننګرهار کې د کلید مجلې د ویش د برخې مرستیال مقرر شو ، ارش یوائې په دغه کار بسنه ونه کړه، ادبی هڅو ته یې ملا وتړله، نوموړي ته چې الله(ج) ځپاند استعداد ورکړی، مطالعې ته یې مخه کړه، له لیکوالانو او شاعرانو سره یې راشه درشه پیل کړه، په بهیرونو او نورو ادبی غونډوکې یې ګډون کاوه، یوائینۍ موخه یې د خپل ادبپال پلار (اروا ښاد اسحاق ننګیال) نوم ژوندی ساتل و ، نه سترې کېدونکو هڅو یې خپلې موخې ته ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکوالي یې له مینې مجلې سره پیل کړه او په ۱۳۸۲ کال بي بي سي راډیو کې د لیکوال او پروډیوسر په توګه دنده واخیسته، وروسته تر هغه یې له ډیرو سیه یزو او نړیوالو رسنیو سره کار وکړ لکه: د سیاری مطبوعاتی دفتر، صبح بخیر افغانستان، (سکولا) بهرنۍ تعلیمي موسسې او دالمان غږ راډیو سره د لیکوال، پردیوسر، ډرامه لیکوال او ممثل په توګه دندې تر سره کړي دي.

ارش ننګیال په ۱۳۸۹ کال په ننګرهار کې د مینې په نامه یوه ښوونیزه او تفریحی راډیو جوړه کړه چې تر دې دمه د دغې راډیو د امتیاز څښتن او رییس په توګه دنده تر سره کوي.

د یادو کلونو په اوږدو کې د نوموړي ډیرې لیکنې، ډارمې او سریالونه په رسنیو کې خپرې شوې او ځلور کتابونه یې چاپ شوي دي.

لومړنی ناول یې ((ولسمشر ماوژلی)) نومیږي چې خورا ډیر مینوال لري.

بیا یې یو بل ګټور کتاب (ګټوره روزنه) د تنکیو ځوانانو او ماشومانو ارواپوهنه وژباړه

وروسته له هغې یې د لنډو کیسو لمړۍ مجموعه ((شیبه)) له چاپ راووته چې لوستونکو یې تود هرکلی وکړ او ځلورم کتاب یې بیا د ژورنالیزم په ډګر کې یو بل نوښت دی (( ښوونیزې راډیو یې خپرونې )) دغه ټولګه د آرش ننګیال د کاري تجربو یوه نمونه ده.

د آرش ننګیال د لنډوکیسو دوهمه ټولګه (( مجسمه )) چې ستاسو په لاسونو کې ده، آرش ننګیال، درنې کورنۍ ته یې او ټولو افغان فرهنګیانو ته د زړه له کومې مبارکي وایم او د لا زیاتو پنځونو په هیله یې یم.

عمر دې ډیر شه !

په ډیر درنښت

ناجیه نجات

بی بی سي16 /10 /2012

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مبائیل

ډېره ازادي ښه ښځه هم خرابوي

(روسي متل)

د لمړي ځل لپاره مې مبائیل واخیست، سخته ورته خوشاله وم، ځکه چې له ډېر وخت نه مې ارمان و، چې یو ښکلی مبائیل راسره وي، نه پوهېدم چې څه پرې وکړم، بس کله مې خورلڼو ته زنګ واهلو او کله خپل خپلوانو ته، دا چې کوم کار او مصروفیت مې نه درلوده، نو په کم وخت کې دکرډیټو احتیاجه شوم، بله یې دا چې یوه ورځ د نا اشنا شمېرې نه زنګ راغی، دا چې زه به زنګونو ته ډېره خوشالېدم، نو په بیړه مې اوکې کړ، ها خوانه د هلک غږ راغی، هلک داسې خبرې پیل کړې لکه زما لس کلن ملګری چې وي، له لږو خبرو وروسته مې فون بند کړ او ومې ویل:

-(رانګ) نمبر ته دې زنګ وهلی!

له دغې ورځې وروسته د زنګونو، مسکالونو او مسجونو څه کمی نه و، لنډه دا چې په دغې کمې مودې کې چې نه مې غوښتل، له جانداد سره مې ټېلیفوني ملګریتا پیل شوه، شاید علت یې هم زما مبائیل ته د پیسو رالېږل و.

جانداد ډېر سخي او هوښیار هلک ښکارېده، شپه او ورځ به مو خبرې کولې، جانداد ډېر ټوکي هم و، کله به چې خفه وم نو دومره به یې خندولم چې خفګان به مې هېر شو.

یوه ورځ مې زړه غټ کړ او له جانداد سره مې د لېدو ژمنه وکړه، د جانداد لېدو ته مې سخته تلوسه وه، هره شېبه به راباندې کال تېرېده، بلاخیره هغه شېبه هم راغله چې د جانان لېدو ته روانه وم، په ځان مې ډېره خواري کړې وه، د مشرې خور نوې جامې مې اغوستې وې او له مور نه مې د ترور د کور په پلمه اجازه واخیسته او د جانداد لیدو ته روانه شوم، همدا چې د مخابراتو څلور لارې کې رېکشې نه کته شوم، جانداد ته مې زنګ وواهه ورته مې وویل چې زه د مخابراتو په څلور لارې کې ولاړه ! یم ته چېرې یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانداد ویل چې د ښاروالۍ د مارکیټ لاندې ولاړ دی، لمړی ځل و چې داسې حادثې سره مخ شوې وم، سخته وارخطا وم، هاخوا دېخوا مې کتل، خو جانداد چې څنګه ما په خپل ذهن کې انځور کړی و، هیڅ داسې هلک مې په نظر رانه غی، زړه مې و چې بیا ورته زنګ ووهم، همدا چې فون ته مې لاس کړ د جانداد زنګ راغی، هغه بله ننبه هم راکړه، ویل یې چې د ښاروالۍ مارکیټ ترڅنګ د عکاسخانې مخ ته ولاړ یم، لا مې خبرې ته خوله نه وه جوړه کړې چې جانداد په بیړه وویل.

ـبس، بس و مې لیدې همداسې مخامه راشه !

زه چې ډېره وارخطا شوې وم، بیا مې هم پیدا نه کړ، دا ځل ما ورته زنګ وواهه، په غوسه مې ورته وویل:

ـته چېرې یې؟ ولې ځان پټوې؟

جانداد چې خندا یې هم په فون کې اورېدل کېده وویل.

ـشاته دې ولاړ یم!

لامې شاته نه و کتلي چې غږ راباندې وشو.

ـفرشتې !

غږ مې په غوږونو اشنا ولګېده، په بېړه مې شاته وکتل، ګورم چې یو سپېره زلمی چې وړوکی ګل داره دسمال یې له سره تاو کړی، د مبایل کارتونه یې په لاس کې دي او د معیبونو بایسکل کې بې له غبرګو پښو ناست دی، د جانداد په څېره کې سرخي او په شونډو یې مسکا ښکارېده، خو زه داسې اوتره شوم چې ناڅاپي مې له خولې یوه کریکه ووته ! او منډه مې کړه !

آرش ننګیال، ننګرهار مینه راډیو

2011/ 07/ 06

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۰۰ عاجل نمبر

هره انسان د ژوند کولو حق لري

خو هرڅوک يې لياقت نه لري

(يوناني متل)

ټولو پرې د مرګ فيصله کړې وه، ځو شپبو کې يې وژله، خو هيچا هم باور نه کاو چې نوريې دې په عياشۍ کې دومره پرمختګ کړی وي چې...

تردې مخکې يې ټوله کورنۍ يوه خوله وه چې نوريه يوه هوښياره او سپېڅلې پيغله ده چې هيڅ ډول عيب نه لري.

نوريې په داسې حال کې ماته زنګ وواهه چې د سلګو له زوره يې خبرې نه شواى کولاى ! که څه هم چې اوښکې د ښځو په ښو کې وي، خو د نوريې سلګۍ دروا غجنې نه برېښېدې.

حيران وم ! هيڅ نه پوهېدم !

له څو شپبو وروسته مې زړه و ، چې مبايل بند کړم، ځکه ماته داسې ډېر زنګونه راځي چې خاوند يې خبر نه وي، په هر مبايل کې زما نوم لمړی وي، ياني زما نوم په الف ( A ) پلېږي، مبايل مې بند کړ.

لا د ژړا او سلګو په فکر کې وم چې بيا زنګ راغی، ما سلام وکړ ! او هغې له جواب سره زما نوم وا خيست، له لنډ معرفت وروسته يې ويل چې يوه کيسه راته کوي، ټينګار يې کاو چې کيسه يې وليکم ! خو د نوريې فکري تمرکز راته برابر نه ښکارېده، بار، بار يې ويل

ـ ما وژني، ما همدا نن وژني !

د نوريې دې خبرو اند ېښمن کړم، ځکه مې خبرې ورسره وغځولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدای شي ووایم چې دا کیسه ما تر ټولو کیسو په سختیو لیکلې ده، ځکه زه د نوریې خبرو سخت حیران کړی وم، د قلم په څوکه مې نه شوای راوستی ! لکه د مرګ نندارې ته یې چې ناست یم، لکه خیال چې وینم، لکه زما ډېر نژدې دوست، ملګری او خواخوږې چې زما د سترګو په وړاندې وژل کېږي او زه یې د خلاصون لپاره هیڅ هم نه کوم یا یې نه شم کولی.

د کیسې په جریان کې څو ځله مو اړیکه پرې شوه، کیسه هم ترپایه ونه رسېده، خو ما چې څه واورېدل هغه مې ولیکل.

نوریې ویل چې په ټول کلي کې موږ یوه بې وسه او بې کسه کورنۍ یو، ځکه خو د چا رانه حیا نه کېږي، موږ فقد یو وروړ لرو چې هغه هم ماشوم دی، مشرانې مې خویندې دي، په کلی کور کې مېړونه د سوکالۍ نښه ده چې موږ نه لرله، څو ورځې وړاندې تربورانو مو له پلار سره په څه خبره جنګ وکړه او زما د پلار یې ډېره بې احترامي وکړه ! که موږ هرڅومره چغې ووهلې خو زما د پلار شمله یې په خاورو کې ولړله، نور مې چې زړه راتنګ شو او په مبایل کې مې د پولیسو بیړنی نمبر ولیده، له واره مې ورته زنګ وواهه او مرسته مې ترې وغوښته چې دې سره په لنډ وخت کې کلی له پولیسانو ډک شو. دا چې موږ ډېر دردیدلي وو، مور، پلار ټولو په شکایت پیل وکړ، او ما خو ورته په چغو، چغو وژړل، پولیسان چې زموږ له بې وسۍ او پر موږ ظلم نه خبر شول، نو زموږ تربوران یې له ځانه سره بوتلل او بندیان یې کړل.

نوریې ویل چې د پولیسو مشر چې زلمی هلک و، څو واره په همدې پلمه زموږ کور ته راغی او له موږه یې پوښتنې کولې، چې هر ځل یې زه هم له ځانه سره کېنولم، دا چې پولیسو موږ سره مرسته کړې وه، ما یې ځان پوروړی ګڼلو او په چای راوړلو به مې یې هرکلی کولو، نوریې ویل چې د پولیسو مشر، په خپل راتګ او بار، بار زنګونو سره غوښتل چې ما سره نژدې شي ! چې همداسې هم وشول.

نیمه شپه به یې راته رنګ وهلو او ما له دې وېرې چې بیا به مو ورته اړتیا پیدا شي تر ناوخته پورې ورسره خبرې کولې، پولس غوښتل چې په خبرو کې له چوکاټ نه پښه واړو، خو ما به یې مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیوله، پولس په هرځل خبرو کې غوښتنه کوله چې ښار کې ورسره چکر ووهم، یاهم رستورانت ته د تللو به یې راته ویل چې زما ځواب به تل منفي و.

ما غوښتل چې له پولس سره خپلې اړیکې راونغاړم، اما هغه راته اخطار راکړو چې، پلار مور او ان ما هم بندیانولی شي، چې دې خبرې سره مې غوني زیږه شول، د پولس اخطارنو دې ته اړه کړم چې یوه ورځ یې دفتر یانې حوزې ته ورشم، شرط مو یو اځې لیدل و، خو هغه را سره چل وکړ، هغه را سره دوکه وکړه.

همدا چې د پولیس شعبې ته ور پورته شوم، زما د هرکلي لپاره یې د خوړلو او څکلو ډېر تیاری نیولې و، پولس راته یو ښکلی ټیلفون هم را ډالۍ کړ، پولس مې خوا کې ناست و او هر څه به یې په خوله راکول، له څو شېبو وروسته مې په سترګو تیاره راغله، بیا نو په ځان نه یم پوی شوې.

یو مهال د ځان په درد له ځایه راپورته شوم، دا نو داسې حالت و چې د (ګوتې) په شان بربنډه یم او پولس په خپل مبایل رانه عکسونه اخلی، تر خوا یې یو بل کس هم ولاړ و چې د پوخ عمر خاوند و، که څه هم چې سخته وېرېدلې وم، خو ژر، ژر مې ځان را جوړ که او روانه شوم،ح زړه کې مې ډېرې خبرې وې خو ژبې مې کار نه کاو، ستونی مې بند و، پولس له متې نه راونیولم او د خپل مبایل عکسونه یې راته ښکاره کړل او راته یې وویل چې که دا خبره رسوا کړم یا هم خبره یې ونه منم، نو زما ټول عکسونه او فلمونه به په خلکو کې خواره کړي.

دا چې په څه ډول خپل کور ته ورسېدم او څه مې وکړل په یاد مې نه دي، له دې پېښې وروسته که پولس هرڅومره زنګونه ووهل خو ما قسم کړی و چې هیڅ کله به ورسره مخ نه شم او هیڅ کله به ورسره خبرې نه کوم.

نوریې ویل چې په دې دروان کې شاوخوا یوه میاشت تېره شوه، فکر مې وکړ چې هغې بلا نه بیغمه شوم، خو نن سهار په خواږه خوب وېده وم چې د پلار په درنو، درنو لغتو او کنځلو راویخه شوم، کور کې مو ټول او تر ښکارېدل، پلار مې له وېښتو نیولې وم او د انګړ مینځ ته یې را کشکولم، کور مو له ترونو او د تره له زامنو ډک و، د ټولو په لاسونو کې زما بربنډ عکسونه وو، د عکسو نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لیدم سره مې پښې سستې شوې، دې وخت کې مې په سر باندې د یوه درond ګوزار احساس وکړ او سترګې مې پټې شوې.

اوس چې په خود شوم، نو خونه کې یې لاس او پښې تړلې اچولې وم، یم، ور یې را پسې بند کړی دی او هېڅوک نه را پرېدي، انګړ کې مې د مور او خویندو ژړاوې اورم، چې ښیرې کوي.

څو ځله مې مور او پلار خواته راغلل او د پښې په اړه یې رانه پوښتنې کولې، خو ما سره د هغوی د پوښتنو هیڅ ځواب نه و.

نوریې ویل کله به چې هغوی ما نه پوښتنې کولې او ما یې ځواب نه ورکاو نو بیا به یې زما په وهلو او ټکولو پیل وکړ، خو زه لکه بې روحه جسد ورته پرته وم، په درد نه پوهېدم او نه مې اوښکې راتلې، زبون مې وهل شوی و، لکه بت د یو اله ته مې ډډه وهلې وه.

پای کې ټولو فیصله وکړه چې زما سزا یوازې او یوازې مرګ دی، زما فیصله هم همدا ده، نه غواړم چې ژوندی پاتې شم، مرګ د ځان لپاره تر هرڅه غوره ګڼم، مرګ د ډېرو انسانانو لپاره غوره وي او د پټېدو جامه یې وي.

نوریې ویل، نه پوهېږم چې څنګه مې په خونه کې ستا د لنډو کیسو کتاب ته پام شو، دا چې لاسونه مې شاته تړل شوي وو په ډېرې سختۍ مې تړل شوي لاسونه مخې ته را واړول او کتاب مې را واخیست، زه خپل مبایل تل په خپل (ټټر...) کې ږدم چې دې ته د هیچا هم پام نه دی شوی، بیا مې په بیړه تا ته زنګ وواهه!

نوریې نور څه هم ویل، چې ناڅاپه مې د دروازې د خلاصېدو غږ واورېده، پسې مې د ښځو چغې واورېدې چې ویل یې مه یې وژنئ! که ما هرڅو مره چغې ووهلې خو اړیکه مې پرې شوې وه!

کابل ۲۰۱۲ د سپتمبر ۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بادشاهي

نیکمرغه هغه دی چې د نورو له ژونده نه عبرت واخلي

حضرت محمد (ص)

د کتاب مینوال وایي چې هر کتاب په یو ځل لوستو ارزي، نو زه هم هر کتاب یو ځل له نظره تېروم، همدا چې خونې ته دننه شوم، د خونې په غولي کې یوه مجله پرته وه، زړه نا زړه مې پاڼې یې را واړولې، ځکه تازه سفر نه راغلی وم او د ستړیا احساس مې کاو، یوه لنډه شان کیسه مې پیدا کړه، کیسه ډېر عجیبه وه، چې ځومره مې لوستله لا پسې په زړه پورې کېده، نو ځو چې چای تیارېده په لوستو مې پیل وکړ.

د یوه هېواد ولس دومره سپځلی و چې که به یې د خپل هېواد پاچاته ښېراوې وکړې، نو هماغسې به کېدل او که به یې دعا کوله هم قبلیده، هر کله به چې پاچا ظلم او ناروا پیل کړه، نو دغه ولس به په ښېروا پیل وکړ او پاچا به یا په مرګ او یا په ژوند ورک شو.

یو مهال یو هوښیار او چالاکه انسان د پاچاهۍ تابیه ونیوله، ځکه چې دغه چالاکه انسان له ډېرې پخوازمانې په دغه ولس د پاچاهۍ خوبونه لیدل او خپل ټول تدبیرونه یې هم په کار اچولی وو، د خدای کړه دي، یوه ورځ همدغه چالاکه انسان خپلې موخې ته ورسېده، ځان یې د پاچاهۍ پر تخت ولیده، سخت خوشاله ښکارېده. دغه چالاکه پاچا یوه ورځ په خپل هېواد کې اعلان وکړ چې، هر کس، غټ او وړکی، ښځه او نر دې یوه، یوه د چرګې هګۍ راوړي او په میدان کې دې کېدې، ناخبره او خوش باوره ولس همدا سې وکړل، هر کس په خپل، خپل واره د چرګې هګۍ په ټاکلي ځای کې ایښودې، کله چې ټولو کسانو هګۍ راوړې، نو ځو شېبې وروسته پاچا امر وکړ چې، هر کس دې خپله، خپله هګۍ بېرته واخلي، دا چې هګیو کې فرق نه کېده نو د هر چالاس ته چې کومه هګۍ راتله خپلوله یې، پاچا هغه سپېځلی ولس په حرامو عادت کړل چې بیا یې ښیرا او دعا کوم اثر نه کاو او پاچا د مرګ تر ورځې بادشا پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله مې چې دغه کیسه پای ته ورسوله، نو د کیسې محتوا راته اشنا ښکاره شوه، افغانانو به چې چاته وپتېیله نو یا په مرګ او یا په ژوند یې ورکاوه ! خو اوس...

۰۲ـ۰۷ـ۲۰۱۱

د شپې نهه بجې، مینه راډیو ، ننګرهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عزم او برى

فولکلوريکه کيسه

عزم د بري لمړی شرط دی

يوه زوړ بزګر له خپلې کورنۍ سره تر يوې اونۍ لاندې ناست و ، چې ناڅاپه يوه غټه مرغۍ راغله او ونه کې کېناسته.

زاړه بزګر چې مرغۍ وليده نو سم له لاسه يې خپلې ښځې ته وويل چې ژر اور بل کړه او ديګ ورباندې کېږده! ځوی ته يې وويل چې لرګي راټول کړه او په خپله يې لينده تياره کړه چې مرغۍ وويشي، مرغۍ چې دا ترتيبات وليدل د ځان خلاصون يې مشکل وليده ، نو سپين ږيري بزګر ته يې غږ کړ:

! ای ښکاري ! ايا غواړې چې زما په لړه غوښه ځان د نن لپاره موړ کړې او که غواړې چې تل موړ اوسې؟

زاړه سړي لينده ښکته کړه او ځواب يې ورکړ:

-غواړم تل موړ اوسم !

مرغۍ وويل ډېره ښه ده ، د ونې بيخ راوسپړه هلته يوه خزانه ده ! وايې خله او ټول عمر موړ اوسه !

پلار ، مور او ځوی درېواړه د بيخ په راسپړلو اخته شول ، بلاخيره تر ونې لاندې يې يوه ستره خزانه پيدا کړه ، درېواړه ډېر خوشاله شول او کله چې کلي ته راغلل او دا کيسه يې کليوالو ته وکړه ، نو د زاړه سړي يو ګاونډي چې دا کيسه واورېده ، خپلې کورنۍ سره سبا سهار وختي له کوره ووت چې خپلې طالعې وازمويي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله یې چې په ونه کې مرغۍ ولیده، نو سم دستي یې ښځې ته وویل چې دیګ تیاره کړه، خو زړې ښځې ورته وویل چې لمړی مرغۍ وولـه او زامنو ته یې چې وویل لرګي راټول کړي دوی هم ځواب ورکړه چې لمړی مرغۍ وولـه بیا به نور ترتیبات سره نیسو !

مرغۍ چې د کورنۍ اتفاق او هیله د سر په سترګو ولیدله نو زړه یې کړه او والوته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بلا

توره شپه کې هر سړی ډاریږي،

خو ځوک یې وایي ځوک یې نه وایي

(پښتو متل)

کله چې د کابل پر سر، د جنګونو له وېرې نه کلي ته کډه شولو ، که څه هم چې د کلي ژوند څه بل ډول ښکارېده، خو د ښار له ژوند نه ډېر خوندورو.

شودې، مستې، پوله پتي، بزګري هرڅه کې راته خوند ښکارېده، اصلي خبره دا وه چې موږ په ښار کې یو ډول نادېده لوی شوي وو ، په کلي کې مو ښه ډېره ځمکه، باغونه او دېرې درلودې، خو په کابل کې به کرایي کورونو پسې مو جوړه، جوړه بوټونه شلول، لمړی خو نه پیدا کېده، که پیدا به شو ، نو شل شرطونه به یې ایښودل، هم به مو پسې ورکولې او هم به مو زاری ورته کولې، په کلي کې هرڅه پریمانه وو. خو موږ نابلده وو.
زموږ په شان ډېرو کورنیو له جنګونو نه کډه کړې وه، له کابل نه یو کوچېدلی ځوان یوه ورځ په شړمبو کې ډوډۍ چوکه کړه، چې ډېر وخت به خلکو ورته دا پېښنه یادوله او خندل به یې.

خو د ( بلا ) کیسه بیا ډېره په زړه پورې وه، یو وخت داسې هم راغی چې زموږ یو کلیوال چې هغوی هم له کابل نه راکډه شوي وو ، په خپله یوه جریب ځکه کې پالیز ( هندوانې ) وکرلې، پالېز د هغوی و ، خو پخېدو ته یې موږ ورځې شمارلې.
څه موده وروروسته زموږ په ملګرو کې چا وویل چې پالیز رنګ وهلی دی، بس موږ هم پلان جوړ کړه چې نیمه شپه ورځو او ښې ډېرې هندوانې به شکوو ، په ټاکلي وخت ټول ملګري راټول شولو یو کس مو په پالېز ته غلا ته ولېږه او نورو لارڅارله، خو کټل مو چې پالیز کې غبرګ کټونه ایښي دي، چې له دې سره مو پلان شنډ شو.

څو ورځې وروروسته نیمه شپه کلي کې د خلکو چغې او شور پورته شو ، په بېړه له کور نه ووتم ګورم چې په کلي کې منډې رامنډې دي، چې لږ وړاندې لاړم زموږ کلیوال یانې د پالېز خاوند سخت وارخطا دی او په لاس کې یې ببلچه ده، منډې وهي، بلې خوا نه غږ راغی او وایي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ هله ټوپک راوړئ.
بل وايي
ـ پام چې ډزې ونه کړئ ! ګني ټول کلی به ورباندې تبا کړئ.
حيران وم چې څه خبره ده؟ د پاليز له خاوند نه مې پوښتنه وکړه چې څه خبره ده؟
هغه چې پېښې يې ښه وهلي وې او وارخطا ښکارېده د شهادات په ګوته يې اشاره وکړه
ـ ړوند يې؟ هغې بلا ته وګوره ! نژدې يې خوړلي وو.
دې خبرې سره مې اندامونه زيږه شول، ګورم چې غټ غبرک شي چې څلور پښې، غټ سر، اوږده لکۍ لري، د پالېز ترڅنګ ولاړ دی، کرا ، کرا خلک ډېرېدل، چا به ويل چې سپي ورپسې خوشې کړئ ! چا به ويل چې په ماشينې يې وولئ، چا به څه او چا به څه ويل.

خو پای کې مشرانو وويل، چې ټول خلک دې خپلو کورنو يا جومات ته لاړ شي، کله چې خلک کورونو يا جومات کې پټ شول، نو يو کس به لاټين په لاس بام ته ورپورته شي چې بلا سمه ښکاري شي او دوه کسان به يې په يو ځای وولي، داسې نه چې بچ شي او نورو خلکو ته زيان واړوي، د مشرانو خبره ومنل شوه. ټول په وېرې د کلي جومات ته ننوتلو، ور او کړکۍ مو په ځان پسې بندې کړې او ټول کړکيو ته غوږ شولو.
دوه کسان له ماشينو سره د بلا مخامخا يوه بام ته ورپورته شول، چې همدې ځای نه يې وويلي، د پالېز د خاوند کور چې بلا ته نژې و، له ورېرې خپل کور ته نه شو تللی او نه د کور خلک د باندې راوتلی شول، بلاخره د کور ور يې ورته خلاص کړه او دی په يوه منډه کور ته وردننه شو او وره ته تمبې واچول شوې، شېبه ورورسته مو کتل چې د پاليز خاوند له لاټين سره بام ته ور پورته شو، همدا چې لاټين يې بلا خوا ته ورځولند کړ، ټول حيران دريان شول، چې نا څاپه د خندا غږونه پورته شول، ګورو چې کټ په دوو پښو ودرول شوی دی، يو سرته يې بالښت ايښی دی چې سم دم د بلا سر ترې جوړ شوی او روجايي د کټ بل سر ته د بلا لکۍ جوړه شوې وه، د پاليز خاوند په خندا ، خندا وويل:
ـ کټ په خپله ما دلته کېښود چې پالېز کې ويده شم، زه چې کورته اوبو پسې لاړم، بيرته چې راغلم کټ نه بلا جوړه شوې وه.

29.03.2010. کابل، کارته نو خپله جونګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جوړه مارغان

مصنوعي پښه د اصلي او

د پلار ښځه د مور ځای نه شي نیولی

ناروېژي متل

پوره دوه میاشتې وروروسته، پوهنتون نه، خپل کور ته راغلم، همدا چې دېرې ته ورسېدم، ګورم چې ابا مې وارخطا، د ونې شاخوا تاوېږي او پورته ګوري، ما وې چې کوم ماشوم ونې ته ختلی دی او دی ورته په قهر دی، خو په ونه کې ماشوم نه ښکارېده، سمیه کې یوازې د چڼچڼو، ترنم اورېدل کېده، لږه شیبه ورته ځېر وم، چې د ابا مې راته پام شو، حالت یې بدل کړ او د سترګو مشي په اراده اشاره را وکړه، مخ ته یې ورغلم او لاسونه مې ورته ښکل کړل، ابا مې وارخطا ښکارېده، لاسونه یې ترپخوا ډېر رپېدل، پوښتنه مې ترې وکړه، خو لکه چې نه یې غوښتل راته څه ووايي، غلي یې پورته ونې ته وکتل او سر یې د خواشینۍ په شکل ښي او چپ لورته وخوراو. بیا مې ترې پوښتنه وکړه، ابا مې عجیبه کیسه راته وکړه، ډېره عجیبه!

ابا مې زما په اوږه لاس کېښود، په خپل کونځی وچلي یې ګوتې راټینګې کړې، پسې په کټ کې وغځېده، کېدای شي چې غاړه یې سترې شوې وه، په شونډو یې مسکا او هېښتیا له ورایه ښکارېده، په کراره یې وویل.

ـ کله چې د پسرلي وږمو ژمی پسې واخېست او د دېرې وخت راغی، نو ما هم دلته چې اوس زه او ته ناست یو، کټ واچاو، ډېر وخت پاس نه شم کتلی، اوس خو بوډا یم کنه!

ابا مې چې کټ کې ملاست و او زه یې څنګ ته په ژۍ ناست وم، کله ماته او کله یې پورته ونې ته کتل چې یو ببرخاښ کې یوه ځاله هم ښکارېده چې وابنه ترې ځوړند و، ابا مې پام ځانته واړو.

ـ ځویه! په هاغې ځاله کې یوه جوړه ډېرې ښکلې مرغۍ اوسېدې، ډېر ښکلي غږونه خدای پاک ورکړي وو، ډېره مینه یې له یو بل سره درلوده، څه موده وروروسته یې هګۍ هم واچولې او هغه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم راغله چې د کټ څنګ ته مې د مرغۍ مړ بچی پروت و ، چې پام مې شو ، نو د مرغیو بچي له هګیو نه راوتي وو.

مور او پلار يې تر پخوا ډېرې الوتنې کولې او خپلو بچو ته يې غله دانه را وړله.

ابا مې غلی شو ، بیا يې ونې ته وکتل او په خواشینۍ يې وویل

ـ څو موده وروسته ښځه مرغۍ له خپلې جوړې سره را نه غله، فکر کوم چې چا وېشتې وه ، څو ورځې مارغه په یوازې ځان بچو ته دانه راوړه ، بله ورځ مې چې ورته پام شو ، نو یوه بله مرغۍ هم ورسره راغله او د ځالې شاوخوا يې شور پیل کړ.

د ابا له دې خبرو سره پوی شوم چې د مارغانو بچي لکه چې کوم مار خوړلي، خو زما فکر درواغ وخوت، ابا مې چې پاس کتل وویل.

ـ لږ وروسته مې چې کتل، نوې چنچنې له ځالې نه د بچو په راغورځولو پیل وکړ او په ډېر لند وخت کې ځاله تشه شوه.

لغمان، د بسرام کلي، خپله جونګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چنده

هغه قاضي چې د يوې خوا وينا واوري

نو هيڅ يې هم نه دي اورېدلي

انګلسي متل

له ډېرې مودې وروسته مې د پلار جان او مور جانې د مزار ليدو ته د کلي په لور روان شوم، له هماغه پيل نه چې روان شوم، ځان راته يو ډول مظلوم او بې کسه ښکارېده، خو کله، کله به مې ځان ته ډاډ ورکاوه چې اوس زه خپله پلار يم، د کورنۍ مشر يم، خو د پلار او مور ځای هېڅوک نه شي ډکولی.

همدا چې د کلي هديرې ته ورسېدم هغه وخت مې را ياد شو چې د پلار جنازه مې د ګڼو ولسونو، دوستانو او خپلوانو په بدرکه همدغې هديرې کې خاورو ته وسپارله، خو چې پام مې شو دا بله پېښنه وه، د ګڼې ګونې په ليدو سخت وويرېدم، چې زموږ په کلي بيا څه ټکه را لوېدلې؟

مخکې لاړم او د يو پخواني کليوال ملګري ترڅنګ غلی کېناستم، په لنډه شېبه کې پوی شوم چې منصور په زندان کې وفات شوی دی، د منصور کيسه څه عجيبه شان را وو ته اند ېښنه مې لا پسې ډېره شوه چې دغه بې وسه کليوال چې هيڅ کله يې چا ته ضرر نه و رسولی، ولې اعدام شو؟

کليوالو، ويل چې منصور ټول عمر د خلکو مزدوري کړې ده، خو خپل ماشومان يې لکه ګل ساتل، خوښ او خوشاله ژوند يې درلود، کله به ايران او کله پاکستان ته د مزدورۍ لپاره تللو، خو هيڅ کله يې چا ته لاس نه و اوږد کړی او هيڅ کله يې بنيادم ته زيان نه رساو.

له ځان سره په ژور فکر کې شوم چې دومره ښه انسان نو ولې زندان ته ولاړ او ولې هلته اعدام شو؟

خو لږ وروسته چې له کيسې خبر شوم، مبايل مې له ډاګې وواهه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلیوالو ویل چې منصور څه موده مخکې خپله مېرمن په ماشینې وویشته او مړه یې کړه، مصنور ویل چې مېرمنې یې مبایل کې له نا اشنا کس سره خبرې کړې، حال دا چې مېرمنه یې ساده کلیواله او د شپږو بچو مور وه چې د مبایل په کارونې هم نه پوهېده، کومه ورځ نا پېژانده نمبر یې د دې لپاره اوکې کړی و چې، فکر یې کاو خاوند یې دی، نو هغه کس چې کله د ښځې غږ اورېدلی و، بیا یې بار، بار زنګونه وهل، منصور په قهر شوی و چې ګواکې مېرمنې یې یارانه شروع کړې ده، نو ځکه یې وویشته. کلیوالو ویل چې منصور بیا ایران ته وتښتېده او انټرپول پولیسو ایران نه افغانستان ته راوسته او دلته یې شل کاله بند باندې محکوم کړ، چې دی هم د یو کال بند له تېرولو وروسته د ناڅاپي ناروغۍ له امله مړ شو.

یوه کلیوال جوړه قبرونو ته لاس ونیو ویې ویل:

-هااغه یې ماشومان دي !

پسې له ځایه پورته شو

-را ځئ ! چې (چنده ) ورته ټوله کړو.

لغمان ولایت د بسرام کلی

2012/ 03/ 07

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوشالي

د نورو خلکو له اوښکو څخه ډکې سترګې

په خوشالۍ بدلول ستره خوشالي ده

(بودا )

د ژوند هره شېبه راته سترې کوونکې وه، نه کار خوند راکاوو او نه کور، هیڅ ځای راته خوشالوونکی نه و، د ښه او خوشاله ژوند ډېرې هڅې مې کولې خو خوښي رانه مروره وه، زما خوا ته سهوه کې هم نه راتله.

نن سهار هم د نورو ورځو په څېر په مات زړه د دفتر پر لور روان شوم، کله چې تم ځای ته ورسېدم نو پوی شوم چې د دفتر موټر هم رانه تللی دی، ځکه چې زه ناوخته راغلی وم، بې له ځنډه ښاري ټکسي کې کېناستم، همدا چې موټر ته پورته شوم، د تل په څېر مې راډیو ته پام شو، راډیو کې په فلکلوریکو کیسو خبرې کېدې، دا چې زه د راډیو سخت اورېدونکی او مینه وال یم نو د چا خبره ورته غوږ، غوږ شوم.

خدای مې دې غاړه نه بندوی نطاق د فرانسې او که کوم بل ملک به و، یوې پخوانۍ کیسې ته اشاره وکړه چې د خوشالۍ په هکله وه، د کیسې سوژه مې خوښه شوه او لا پسې غوږ شوم، یو نیم ځای کې به د موټروانانو بې ځایه هارنډونو زما فکري تمرکز والوځاو، او یو نیم ځاي کې به د ناستو سپرلیو بې ځایه خبرو او بحثونو.

کیسه ډېره په زړه پورې وه او خپل ټول پام مې کیسې ته کړ، نطاق کیسه داسې پیل کړه.

- پخوا زمانو کې د فرانسې د پاچا نازولی ځوی په داسې رنځ اخته شوی و چې، د دنیا ټول طبیبان یې له رغولو عاجز پاتې وو. پای کې پاچا د نړۍ نامتو طبیبان او نجومیان را وغوښتل چې د ځوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښه کېدا لپاره يې د حل لار ولټوي، نجوميان په دې سلا شول چې که چېرې دغه ناروغ ته د نړۍ د خوشاله انسان جامې واغوستل شي نو ، ډېر ژر به روغ شي.

پاچا همدا سې وکړل او د نړۍ هر ګوټ ته يې خپل سپاهيان ولېږل چې د نړۍ د خوشاله انسان جامې که په هر قيمت وي رايې وړي، سپاهيان هر کلي او هره سيمه له نظره تېره کړه، خو داسې ځوک يې پيدا نه کړ چې تر ټولو انسانانو دې خوشاله اوسي.

سپاهيانو خپله هڅه پای ته نه رسوله، يوه دله سپاهيان د يوه کلي ترڅنګ لټه کوله چې ناڅاپه يې د يوه زلمی غږ يې تر غوږونو شو ، چې د زړه له تله يې سندره زمزمه کوله او په غږ کې يې خوښي هر چا حس کولی شوای. سپاهيان په يوه منډه د غږ خاوند په لټه شول او هرسپاهي ببړه کوله چې د غږ خاوند پيدا کړي، سپاهيان د غږ په خاوند پسې يوه بڼ ته ورسېدل، ګوري چې يو زلمی ناست دی او ترنم کوي، د سپاهيانو مشر ورغږ کړ، زلمي خپل سر راپورته کړ، سپاهيانو چې کله د زلمي خوشاله څېره وليده لا پسې باوری شول، يوه سپاهي چې تر ټول يې ببړه ډېره وه، ورمنډه کړه چې کميس ترې واخلي، همدا چې زلمي ته وړاندې شو ، ګوري چې زلمی بربنډ دی، خو تر هرچا خوښ و.

د کيسې په اورېدو مې په زړه کې د خوشالۍ احساس وکړ، خپل ژوند راته ډېر سوکاله او ارامه ښکاره شو ، زړه کې مې شکر وېست، او په ډېره مينه د دفتر په لورمې قدمونه ګړندي کړل.

مينه راډيو ، جلال اباد

2011/07/08

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مينې اشارې

مينه هغه بلا او مصيبت دی چې

هرڅوک يې غوښتونکی دی

افلاطون

راډيو کې مې دنده واخېسته، ډير ورته خوشاله وم، زړه مې غوښتل چې هرڅوک مې وپېژني، هرڅوک مې غږ واوري او خوښ مې کړي؛ که ناروغ شم يا خپرونه کې برخه وانه خلم نو پوښتنه مې وکړي، هره شپېه راته زنګونه راشي او د ډېرو اړيکو خاوند ښکاره شم...

عجيبه وه، زما خوب سم تعبير شو، په ډېر کم وخت کې مې د خلکو زړنو کې ځای پيدا کړ، زما له اورېدونکو سره مينه وه، ځکه خو هرچا زياته مينه راکوله، خو د سلګۍ اړيکې داسې راسره ټينګې شوې، چې ما به يې په زنګ خوښي محسوسوله او هغې به هم له زنګ وهلو نه خوند اخيسته، چې ځانګړې مينه يې له اړيکو نيولو او فرمايشي سندرو سره وه، هغې به تل رومانتيکې او مستې سندرې غوښتې، خو زما خپرونې ته له ټيلفون کولو سره د هغې مينه ددې له امله هم زياته وه، چې کله به ما شخصي ټيلفون نه هم په خپرونه کې راسره اخيسته، فرمايش به يې ورکاوه او د خوښې سندره به يې بې نوبته هم نشرېده.

د سلګۍ د خوښې سندرې مې ځکه ورته بار، بار نشرولې چې ما هم خپل ځان پکې ليده، ما به تر پايه ټکي په ټکي اورېدې او د ځان په طرف اشارې به مې پکې ايجادولې او لټولې، داسې لکه سلګۍ چې، کله رانه مينه غواړي، کله ګيلې کوي، کله شوخي کوي، کله زما له بې وفايۍ نه وېرېږي.

له ځان سره به مسکی شوم، فکر به مې وکړ چې سلګۍ له زړه نه راسره مينه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې به خپله مینه ښودله، مسجونه یې رالېږل، تر دې چې زه پوره باوري شی وم، چې سلګۍ راسره مینه لري؛ ما د هغې په هره ټلیفوني مکالمه او د سندرې په هر فرمایش کې د محبت هغه ټولې اشارې چې حس کولې او لټولې هم لیدې.

خو یو مهال مې یوې عجیبې خبرې ته پام شو او سخت ټکان مې وخوړ، هغه دا چې سلګۍ دا ټولې اشارې زما په واسطه بل چاته لېږلې، یانې زه یې فقد د یوې وسیلې په توګه استعمالولم. له ځانه سره سخت خجالته شوم، ځان راته ماشوم ښکاره شو، سلګۍ یو اځې سلګۍ را پرېښودې او په خندا د خپل زړه په لاره لاړه.

جلال اباد مینه راډیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالر

هغه چې زر نه لري، ځان خو لري

فرانکلین

بس د تقدیر خبره ده، ټول عمر مو د ښار په شر او شور کې ژوند تېر کړ، خو هغه د چا خبره بخت مې ان د اوو غرونو شاته له یوې کلیوالې، دینداري او پښتنې پیغلې سره وتړل شو.

مخکې له دې چې د خسر په درګا پښه کېږدم نو یو لړ شرطونه یې رباندې کېښودل، چې لمونځ به کوم، ږېره به پرېږدم، خوله یا هم پټکی به پسره وم، پرته د دروازې له ټکولو باید کور ته یې د ننه نه شم او داسې نور ډېر شرطونه وو چې له دې خبرو سره مې په پوره مانا وپېژندل.

خو ما له دې خبرو سره هېڅ کومه ستونزه نه درلوده، ځکه تازه د طالبانو واکمني تېره شوې وه، تقریبا په شرایطو برابر وم.

دا چې له ماشومتوبه دوستانو کره تګ راتګ کې چندانې باتور نه وم، نو له کوژدې پرته چې په ساده شکل مو ترسره کړې وه، بیا نه وم تللی.

مور مې هر وخت ټینګار کاو چې یو ځل مې د خسره پوښتنه له نژدې وکړم او کور ته یې لاړ شم، خو زما زړه نه غوښتل، ځکه پوهېدم چې هغهٔ کور کې نه شم ځرېدلی، نو څه ته په ګرم، ګرم ور روان یم؟ اما داسې هم نه شوای کېدای څنګه چې ما غوښتل.

هغه ورځ ډېر ژر راغله چې د خسر د کور لار مې لنډوله، ماښام، ماښام ورسېدم، له ډوډۍ خوړلو وروروسته د خسر له پوښتنو سره مخ شوم،

ـ عمل لرې؟

څه کار کوې او څومره درس دې ویلی دی؟ او...

(c) ketabton.com: The Digital Library

مابه دروا غ او رښتيا سره يو ځای کول او پوښتنې به مې بې ځوابه نه پرېښودې، هسې خو خلک وايي چې دوه روپۍ پور، ځوی په بازار لوی که.

د ماسخوتن لمونځونه مو وکړل او خسره سره په يوه خونه کې د خوب په تمه مو سرونه کېښودل.

لا مې يو اړخ خوب هم نه و کړی چې ناڅاپه، په لوړغږ د (الله اکبر) او (بسم الله الرحمن الرحيم) نارې شروع شوې، سخت وو بېرېدم، پسې د ښځو غږ پورته شو چې شکرونه يې ويستل، خو د باندې وتلو جرات مې ونه کړ. کله مې چې د ماشومانو غږونه او خنداوې واورېدې نو په بېړه پاڅېدم، فکر مې وکړ چې ګواکې لمر راپورته شوی او زه لا ويده پاتې شوی يم، خو د وره له چولې مې چې دباندې وکتل توره شپه وه. په همدې سوچ کې ناست وم چې د خسر د ټوخي غږ مې راننژدې شو، درنګ شېبېه کې د اوبو لوټې سره په خونه راننوت.

له لمانځه وروسته سم دستي چای تيار شو، غټ او واړه خونې ته راغلل، خو چای يوازې زما او زما د خسر لپاره و، ماشومان او ښځې وړاندې ناست وو، خو د پرون ماښام په پرتله ټوله کورنۍ بدله ښکارېده، فکر مې وکړ چې شايد زما لپاره خوشاله وي، خو چې سترګو لاندې مې کتل، اشارې هم کېدې، زړه کې مې شک پيدا شو، کله مې ځان ته کتل او کله مې ډوډۍ خوړلو ته پام کاو، چې دې وخت کې يوه (غوټه) زما د خسر په مخ کې کېښودل شو، خسر مې پرته له مقدمې وويل.

ـ ځويه! دغه (پنډ) کې څو ډالره دي، يو کاروبار به پې شروع کړې، زه سپينږيری يم او زامن خو مې وينې چې ماشومان دي، پردۍ مزدورۍ نه به خلاص شې !هم به کار وشي او هم به پيسې خوندي وي.

ددې خبرو په اورېدو حيران څکه شوم چې، دا کليوال خلک او دومره ډېرې پيسې؟ هغه هم ډالر؟ که رښتيا ووايم، زړه کې سخت خوشاله وم چې داسې شتمنې کورنۍ سره مې مخه شوه، که په دوی وورېږې نو په ما خو به وڅاڅي، له واره مې په پلان جوړولو فکر کول پيل کړل، چې خسر مې پنډ کې راکش که.

ـ ځويه! يو ځل به يې حساب کې! زه خو ولاکه د دغو پيسو په حساب پوهېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما چې دوه سترګې د پیسو په پنډ نښتې وې او د ډالرو (څښور) عکس له ورایه سترګکونه را وهل، پنډ مې ځان ته راکش که او د (ګل سیب) د سمال غوټو په خلاصول مې پیل وکه، همدا چې پنډ خلاص شو، ناڅاپي مې له خولې (اهه) ووت ! ځکه چې هغه څښور جورج واشنګټن نه، د بشرحقونو ریسه سیماثمر او د حامد کرزي د موقتې دورې د کابینې عکسونه یا (بروشرونه) وو چې د شپې لخوا الوتکو د عامه پوهاوي لپاره شېندلي وو.

خو زه تر دې دمه ځان ته داډ ورکوم، که هغه ټول ډالر هم وای، نو اوس به راسره یو سنټ هم نه وای پاتې، خو دهغې کلیوالې، ساده او سپیڅلې کورنۍ اخلاص او مهرباني اوس هم راسره شته.

آرش ننګیال-د مینه راډیو

2012/ 03/ 20

# زنداني

ازادي تر بادشاهیه هم تېرې که

چې د بل تر سیوري لاندې شي زندان شي

( سترخوشال خان خټک )

وایي، حضرت یوسف (ع) ویلي چې زندان د انسان د اصلاح او په بدو باندې د پښېماني ځای ځایګی دی، خو په افغانستان کې بیا زندانونه داسې نه دي، ددې هېواد زندانونه ان سم او په لاره خلک هم جرم، قتل او مخالفت ته اړ باسي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

منصور لا اتلس کلنۍ ته نه و رسېدلی چې د بشر دحقونو مدافعینو غراب او زولنې کړو ، منصور په یوې مظاهرې کې  نیول شوی و ، منصور د خپلو دوو همزولو ملګرو وژنه غندله او نړیوال ځواکونه یې یرغلګر او د بېګنا خلکو قاتلین بللي وو.

 هغه یې د ترهګر په نوم دوه کاله زنداني کړ ، ځکه په هغه یې دا منلې وه چې ګواکې له مخالفینو سره لاس لري ، هغه ویل چې دا هرڅه یې د وهلو او ډول ، ډول سزا ګانو په زور منلي دي.

زموږ د کلي کور په ځوانانو کې منصور په نیکو او ښو اخلاقو شهرت درلوده او پینځه وخته لمونځ په جمعه او دین داري ورته میراثي خبره وه.

د کورنۍ په ډېرو منډو او هڅو ، کله چې له دوو کلونو بند وروسته راخوشې شو ، بیا نو هغه منصور نه و چې موږ لیدلی و ، زړه یې له عقدې اوکرکې ډک و او دا یې ارمان و چې یوه ورځ د دولت او بهرنیوځواکونو پر وړاندې ټوپک را پورته کړي اومخامخ ورسره وجنګېږي ، هغه خپل ضد پوره کړ !

نن د منصور د ازادۍ لسمه او شهادت لمړۍ ورځ ده ، هغه له بهرنیو ځواکونو سره په مخامخ جګړه کې په ګوګل سوری شوی دی.

جنازې ته راغلو ټولو خلکو ویل:

ـ منصور خو په زندان کې طالب شو ! ! !

کابل کارته نوـ 2012 /10 /01

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښکلا

دښځې ښکلا باید ، د هغې د بدن پر تناسب پرتله نه کړای شي

پکار ده چې دهغې اغېزې ته پاملرنه وشي.

(مادام دولامبر)

ټوله پوهنځی کې یې د ښایست نغارې غړېدې، هېڅ مثاله یې نه و ، ګڼې زموږ د پوهنتون ځوانان یې شاهدان دي او دروغ د ایمان ضرر دی.

زموږ یوه استاد به ویل چې د وجود او اندام تناسب ته ښکلا وایي او ځینو به ویل چې نه، ښکلا د هرچا په سترګو کې وي.

بریښنا د هرچا له نظره ښکلې وه، په لمړي ځل لیدو به یې هرځوان لیونی کړی و ، خو خدای داسې اخلاق ورکړي و چې په دوهم ځل لیدو به یې د زړه ټولې بدۍ هېر شوې او ځان ته به خجالته شو.

یوه ورځ په ناڅاپي توګه خبر شو چې بریښنا نامزاده شوې او شاوو یې په امریکا کې اوسیږي.

ځوک خوشاله شول او ځوک پرې خفه شول، بس د هر چا نظر توپیر لري، دا چې بریښنا زموږ ټولګي کې وه او ټولو ته منلې او اخلاقي جنۍ معرفي شوې وه، درنګ شېبه کې مو د هغې د کوژدې په شیرینۍ کې ښایسته محفل جوړ کړ او مبارکۍ مو ورکړې.

دې مودې کې زموږ رخصتي هم راغله، ټول خپلو کورنو ته ولاړو او د اوږدې مودې خدای په اماني مو وکړه او هغه ورځ مې هم په یاد ده چې بېرته د پوهنتون تلو ته وارخطا وو ، شاید ژوند همداسې په بېړه او په منډه وي، خو د ځوانۍ شېبې لا کړندۍ وي.

کله چې له رخصتۍ راغلو او ټولګیوالو سره مو روغ بړ وکړ، نو بریښنا کې را ته لوی بدلون ښکاره شو ، ان چې حیران شوم، هغه ټېپه رایاده شوه

که په ښایست مې خفه کېږې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور به د ځمکې خوب کومه چې ژبړه شمه

فقد همداسې وه.

چې پام مې شو نو نجونو ته هم اند ښښنه پیدا شوې وه، ټولې ترې چاپېره شوې او دا ولې؟ دا ولې؟ شروع شول.

دې سره بربښنا لکه خپلو نژدې دوستانو ته چې ډک زړه تشوي، په داسې چغو یې ژړا پیل کړه چې موږ ټول یې وارخطا کړو، نجونو خو ښه شېبه ورسره اوښکې تویې کړې.

نور مې چې زړه راتنګ شو او بې علت خفګان راته بې عقلي ښکاره شوه په قهر مې ترې پوښتنه وکړه:

ـ اخیر څه شوي؟ مړی نشته او ویر یې شته؟؟

دې سره تولګي کې خاموشي خوره شوه، د بربښنا ژړا په سلګو بدله شوه او دومره یې ووې:

ـ نامزاد مې امریکې نه راغی، زه یې خوښه نه کړم، مخکې له واده یې طلاق راکړ.

دې خبرې سره هرې خوانه غړونه پورته شول

ـ دا څه وایي؟

ـ اوو هو؟

ـ دا ولې؟

خو د دې پوښتنو ځواب هچا سره نه و.

له هغې ورځې وروسته، رانه ښکلا ورکه شوې ده، هرچا ته د شک په نظر ګورم، د بدرنګۍ او ښکلا توپیر راته ګران شوی دی! ښکلا یانې څه؟؟؟

مینه راډیو-۲۰۱۲کال د جون ۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګاډیوان

امیرچي ظلم کاروي، اوربل په ټول دیاروي

پښتومتل

له ډېرمودې وروسته مې د ګاډۍ ( بګۍ ) شرنګا واورېده، ګاډۍ لکه ناوې په قیر سړک روانه وه، د رنګارنګو ټوټو او ځنډیو نه ډکه وه، ماشومتوب یې رایاد کړ ! چې په خامه سړک به کړه وړه روانه وه ! لکه زانګو ټالونه به یې وهل، له لنډې شېبې وروسته به پکې خوب وړی وم.

زما خواکې ناست سردار اکا چې زموږ د کلي مشهور ټوکمار دی، پرې غږ وکړ:

ـ قومندانه ! ! څو ګاډیوانان دي؟

له دې سره ناستو ملګرو ، وخندل د(څو ګاډیوانان دي؟) خبرې راز له دوی سره و ، خو زه ګاډیوان او قومندان ته سوچ وړی وم، نور مې چې وار نه کېده ! سردار اکا نه مې د ګاډیوان په هکله پوښتنه وکړه، هغه عجیبه کیسه را واوروله.

سرور اکا ویل چې ګاډیوان د وسلوالو په دوران کې د رښتیاوو قومندان تېر شوی دی. هغه ویل چې ډېر زبردسته قومندان و چې خلک یې له تش نوم نه رپېدل، سرور اکا ویل چې قومندان چې شل کاله قومندانی کړې ده او د قدرت په وخت کې یې پوره څلور ودونه د ټوپک د شپېلۍ په زور کړي او دوه ویشت زامن لري چې اوس خپل پدري کسب، ګاډیواني کوي، نو هر ځل چې ګورو ګاډۍ ته نوی کس ناست وي.

سرور اکا چې له خندا شین و او هرې خبرې سره به یې یو ډول تمثیل هم کاوه، وویل:

ـ قومندان په خپله خپل زامنه سم نه پیژني نو موږ به یې څه وپېژنو ! ځکه ورته وایو چې څو ګاډیوانان دی؟

3/4/2012لغمان ولایت۔د بسرام کلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملایک غوندې انسان

دغله او شتمن ترمنځ دومره تو پیر دی چې

غل یې له شتمن نه غلا کوي او شتمن یې له غریبو نه

په او سنۍ نړۍ هرڅه په پیسو پورې تړلي دي، ان خندا هم په پیسو پورې تړلې ده، هغه کسان چې ژوند یې جوړ وي او جیب یې ډک وي، تر غریبو او نادارو خلکو ډېر خاندي، دا خبره ما ته په اثبات رسېدلې ده.

مدیر صیب ګل خان سره چې کله مخ شوی یم، نو خوله به یې له خندا ډکه وه، داسې نه ده چې ګواکې مدیر صیب کوم لوی تجار دی یا هم وزیر او د پالرلمان وکیل دی.

نه !

هغه د پوهنې وزارت کې یو عادي مدیر دی، خو ګټه وټه یې له (الکوزی تجار) نه کمه نه ده، هره ورځ مې چې ترې پوښتنه کړې

ـ مدیر صیب ! نن دې کومه (ولجه) په ګوتو درغلې او کنه؟

مدیر صیب به، په خندا وویل:

ـ هو ! دېرش، څلوېښت، شین غوږي( زرګوني ) مې جیب ته کړي دي !

خو نن مې چې مدیر صیب ولیده، هغه پخوانۍ شوخي او خندا مې پکې ونه لیده، نو ترې پوښتنه مې وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ مدیر صیب ! څنګه غلی یې؟

مدیر صیب په خواشینۍ راته وویل چې ریس یې بدل شوی دی او سم ملایک غوندې انسان دی ، یوه روپۍ رشوت نه خوري !

ما هم له مدیر صیب سره خپله خواشینۍ شریکه کړه او د حل لار په لټولو مې ورسره خبرې پیل کړې، مدیر صیب راته په ډېر اطمینان وویل چې د اندېښنې خبره نه ده، ځکه په لنډ وخت کې به یې د ځان ملګری کړي.

لا اونۍ نه وه تېره شوې چې یو ځل بیا د مدیرصیب خواته ورغلم، همدا چې مدیر صیب له لرې ولیدم نو له ځایه راپورته شو او په خندا یې وویل:

ـ سرې مې بلد که ! ژغ مې پرې کېښود ! خو لږې روپۍ نه اخلي !

کابل کارته نو

26/ 09/ 2012

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوی کور

عاقلانو لره څو رنګه حکمت دی

لیونیو یو د عقل حکمت نه زده

( ستر خوشال خان بابا )

رښتیا چې عزت او ذلت د الله له لوري وي، ها د چا خبره که په منډه وای، نو سپی به پاچا و.

زه د کورنۍ تر ټولو کوچنۍ ځوی یم، اوس مو ژوند مخ په ښه کېدو روان دی، ځکه چې وررونه مې د کاروبار خاوندان شول، درس او سبق مو وو پلې او د بې وسۍ د ېرې شپې ورځې مو هم نر غوندې شاته واچولې.

څه موده وړاندې بسهودو ولسوالۍ کې خپل نوي جوړ شوي کور ته لاړوو ، دا چې د ېر کلونه مو د ښار په شور کې ژوند کړی و ، نوي کور کې ژوند کول راته خوندور ښکارېده، روانې اوبه، ونې غنمې او سمسورتیا ، هر څه ته په تعجب کې وم او د خوشالي الوتنې مې کولې.

بوډا پلار به مې مازدیګر سطل واخیست او پټو نه به یې تازه ترکاري راوړه، مور به چمن کې ناست و او ماشومانو به پکې غېږې وېستې، لکه د کلونو بندیان چې ازاد شي.

یوه ورځ مازدیګر مهال د بهسودو سېند خواته په مزه، مزه روان وم او خپل چپتر مې لوسته، چې غږ راباندې وشو.

ـ حاجي صیب زو ! وه د حاجي صیب زویه !

چې ومې کتل، ګورم چې غمخور دی ! غمخور یو وخت زموږ ګاونډی پاتې شوی دی او دغه تخلص پرې ملګرو ، ور تپلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غمخور د ډېرې غیر حاضرۍ له امله ښو نځی پرېښود ، ګنې ما سره به اوس د حقوقو پوهنځي کې و.

ستړې مه شې مو سره وکړه ، خو د غمخور سلوک تر پخوا ډېر بدل ښکارېده.

ست مې ورته وکړه ، هغه هم پوی شو چې زموږ کور دلته را غلی دی ، د کور مبارکي یې راکړه او شاوخوا سیمه یې له نظره تېره کړه ، ښیرن پکول یې له سره پورته کړ او ارامه یې وویل:

-بادار ه ! ته چې دلته ام (سګرټیان) نه وهې ! خدای به وهلی یې !

نوره یې ملا کړوپه کړه او بې له خدای په امانۍ نه روان شو.

ننګرهار بهسود -د سروري صیب دوی کور

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**